مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالعزیز نائیبي

۲۰۲۶/۰۷/۲۹

# لا هم

لا هم ستا ځلاندې سترګې
لا هم زما ژړاندې هیلې
لا هم ستا خواږه یادونه
لا هم ځومره له ما لرې

اننګې دې سره ګیلاس وو
لا هماغسې رنګه دي؟
لا دې زلفې ځانګې، ځانګې
ترې راځي بوی د سینځلې؟

لا دې مینه زوروره
لا مې زړه او خوله کې ته یې
ها به څنګه ننداره وي
چې بیا ووینو اغلې

ستا خندا وې د لمر وړانګې
لا څه زیرې د سبا شته؟
څه یخ سیورې د تیارو دي
چې خور شوې زما په کلي

لا شرنګا د زولنو دي
لا د هوډ متې پیاوړې
د تقدیر سپاهیان حیران دي
لا زندان کې زموږ خبرې

لا دې ورکې لارې ځارم
لېونتوب نه مرګ په تېښته
لا مې ژوبله اروا تا پسې
په اسمان او مځکه ځغلي

۲۸/۷/۲۰۲۶



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ